# د نحمیا کتاب

## د اورشلیم دپاره د نحمیا اندېښنه

١ ١ دا د هغو کارونو ځانګړی رپوټ دی چې نحمیا د حکلیا
زوی سرته رسولي دي:

د کیسلو په میاشت کې چې د ارتخششتا د پاچاهۍ شلم کال ؤ، زه
نحمیا د شوش په بالاحصار کې وم. ٢ زما د ورونو څخه یو تن
چې حناني نومېده، د څو کسانو سره د یهودا څخه راغلی ؤ. ما د
هغوی څخه د اورشلیم او نورو یهودیانو په اړه چې په بابل کې د
جلاوطنۍ څخه تښتېدلي وو، پوښتنه وکړه. ٣ هغوی ماته ځواب
راکړ: «هغه خلک چې ژوندي پاتې دي او بېرته د یهودا ولایت ته
راغلي دي د ډېرو کړاوونو او رسوایۍ سره مخامخ دي. د اورشلیم
دېوالونه راغورځول شوي دي او د هغه دروازې سوځېدلي دي.»
٤ کله چې ما دا ټولې خبرې واورېدلې، نو کښېناستم او په ژړا
شوم.

څو ورځې مې وير وکړ او روژه مې ونیوله. د اسمانونو خدای ته مې
دعا وکړه: ٥ «ای د اسمانونو څښتنه خدایه! ته ډېر لوی او
هیبتناکه یې. هرڅوک چې ستا سره مینه کوي او ستا په حکمونو
باندې عمل کوي، ته په وفادارۍ د هغه سره په خپل لوظ باندې ولاړ
یې. ٦ ای څښتنه، ماته وګوره، او د خپل خدمتګار هغه دعا واوره
چې شپه او ورځ یې ستا د خدمتګارانو یعنې د اسراییلو د قوم دپاره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوم. زه په هغو ګناهونو باندې اقرار کوم چې مونږ اسراییلیانو ستا په
وړاندې کړې دي. حتی ما او زما خپلې کورنۍ هم ګناه کړې ده. ۷
مونږ ستا په وړاندې بد عمل کړی دی او ستا حکمونه مو سرته نه
دي رسولي. مونږ د هغو قوانینو څخه پیروي نه ده کړې چې د خپل
خدمتګار موسی په وسیله دې مونږ ته راکړې وو. ۸ هغه خبره
چې تا موسی ته کړې وه، اوس هغه در په یاد کړه. تا ویلي وو: ‹که
چېرې تاسو د اسراییلو قوم زما سره بې وفایي وکړه، نو زه به تاسو د
نورو قومونو په منځ کې خواره واره کړم. ۹ خو که چېرې تاسو
بېرته زما خواته راوګرځئ او زما په حکمونو باندې عمل وکړئ، حتی
که د نړۍ په کنجونو کې هم خواره واره شوي یئ، زه به تاسو بېرته
هغه ځای ته راولم چې ما د خپل عبادت دپاره غوره کړی دی.›

۱۰ ای څښتنه، دا ستا خدمتګاران دي او ستا خپل قوم دی. تا
هغوی په خپل لوی قوت او طاقت سره ازاد کړي دي. ۱۱ اوس
زما دعا او د خپلو نورو ټولو خدمتګارانو دعا چې غواړي ستا
درناوی وکړي، قبوله کړه. زه زاری او غوښتنه کوم کله چې نن د پاچا
حضور ته ورځم، نو زما سره مرسته وکړه او د هغه زړه نرم کړه ترڅو
زما غوښتنه ومني.»

په هغو ورځو کې زه د پاچا ساقي وم.

## اورشلیم ته د نحمیا تګ

۲ ۱ د ارتخشتا د پاچاهۍ په شلم کال د نیسان په میاشت کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یوه ورځ کله چې ارتخششتا پاچا ته شراب راوړل شول، ما هغه ته د شرابو جام وړاندې کړ. هغه هېڅکله زه خفه لیدلی نه وم، ۲ نو هغه زما څخه پوښتنه وکړه: «ولې داسې خفه ښکارې؟ فکر نه کوم چې ته ناروغ یې، نو هرومرو ته خفه یې.»

زه د دې پوښتنې څخه ډېر وویرېدم ۳ او ځواب مې ورکړ: «تاسو اعلیحضرت دې تل ژوندي اوسئ! زه به څنګه خفه ښکاره نه شم؟ هغه ښار چې زما نیکونه په کې ښخ دي هغه وران شوی دی او د هغه دروازې سوځېدلې دي.»

۴ پاچا پوښتنه وکړه: «ته څه غواړې؟»

ما د اسمانونو خدای ته دعا وکړه ۵ او بیا مې پاچا ته ځواب ورکړ: «که چېرې تاسو اعلیحضرت زما څخه خوشحاله او راضي یئ چې زما غوښتنه ومنئ، نو ما ولېږئ چې یهودا ته لاړ شم، یعنې هغه ښار ته چې زما نیکونه په کې ښخ دي، ترڅو هغه ښار بېرته ودان کړم.»

۶ پاچا چې ملکه یې په څنګ کې ناسته وه، پوښتنه وکړه: «ته د څومره وخت دپاره ځې او څه وخت بېرته راځې؟» ما هغه ته د راستنېدو وخت وښود او بیا هغه زما غوښتنه ومنله.

۷ بیا ما پاچا ته وویل: «اعلیحضرته! که ستاسو خوښه وي نو ماته د فرات د سیند د لوېدیځې خوا د سیمو په والیانو باندې لیکونه راکړئ، ترڅو وکولای شم چې یهودا ته په خیریت سره لاړ شم.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٨ همدارنګه ما د هغه ځخه وغوښتل چې د شاهي ځنګلونو
ساتونکي اساف ته هم يو ليک راکړي او هغه ته لارښوونه وکړي چې
ماته د هغې کلا د دروازو د جوړولو دپاره چې د خدای د کور په
څنګ کې ده، د ښار د دېوالونو دپاره او د هغه کور د جوړولو دپاره
چې زه به په کې اوسېږم، لرګي راکړي. هغه ټول شيان چې ما غوښتي
وو پاچا هغه ماته راکړل، ځکه چې زما خدای په ما باندې مهربانه او
زما سره مل ؤ.

٩ پاچا څو عسکري منصبداران او د سپرو عسکرو يو لښکر زما
سره ولېږه او ما د فرات د سيند لوېديځې خواته سفر وکړ. هلته مې
واليانو ته د پاچا ليکونه ورکړل. ١٠ خو کله چې سنبلط چې د
بيت حورون د ښارګوټي اوسېدونکی او طوبيا چې د عمون د ولايت
يو مامور ؤ دا واورېدل چې يو څوک راغلی دی ترڅو د اسراييلو د
خلکو د ښېګڼې دپاره کار وکړي، نو هغوی ډېر خفه شول.

## نحميا او د اورشليم د دېوالونو ليدل

١١ زه اورشليم ته لاړم او تر درې ورځو پورې ١٢ ما هېچا ته د
هغه پلان په اړه ونه ويل چې زما خدای د اورشليم په هکله زما په
زړه کې جوړ کړی ؤ. بيا زه د شپې راپاڅېدم، راووتم او د خپلو
ملګرو څخه مې څو تنه د ځان سره بوتلل. هلته يوازې يو خر ؤ چې
زه ورباندې سپور وم. ١٣ زه د درې د دروازې له لارې د ښار نه
ووتلم، د ښامار د چينې څخه تېر شوم او د خزلو د دروازې خواته
لاړم. د تګ په وخت کې مې د نژدې څخه د ښار غورځېدلي
دېوالونه او سوځول شوي دروازې په غور سره وليدلې. ١٤ زه د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چیني دروازې او د پاچا حوض ته ورسېدم. خو وروسته بیا لاره
دومره بنده وه چې زما خر ورباندې تېرېدلی نه شو. ۱۵ نو زه د
قدرون درې ته ورښکته شوم او په لاره روان وم او دېوال ته مې
کتل. بیا په هغه لاره باندې چې راغلی وم بېرته ستون شوم او د درې
د دروازې له لارې بېرته ښار ته ورننوتلم.

۱۶ د هغه ځای د مامورینو څخه هېڅوک پوه نه شو چې زه چېرته
تللی وم او څه مې وکړل. ما نورو یهودیانو ته لکه کاهنانو، مشرانو،
مامورینو او نورو هغو خلکو ته چې په دې کار کې به یې برخه
اخیستله، تر هغه وخته هېڅ ونه ویل. ۱۷ خو هغوی ته مې وویل:
«وګورئ چې مونږ د څه ډول کړاو سره مخامخ یو، ځکه چې
اورشلیم وران شوی دی او د هغه دروازې سوځېدلې دي. راځئ چې
د ښار دېوال بېرته جوړ کړو او خپل ځانونه د رسوایۍ څخه خلاص
کړو.» ۱۸ بیا ما هغوی ته وویل چې خدای څنګه زما سره مل ؤ او
مرسته یې راسره کوله او هغه څه مې هم ورته وویل چې پاچا راته
ویلي وو.

هغوی په ځواب کې وویل: «راځئ چې د بیا ودانولو په کار پیل
وکړو.» نو هغوی په دې توګه دې ته تیار شول چې دا نیک کار پیل
کړي.

۱۹ خو کله چې سنبلط، طوبیا او یو عرب چې جشم نومېده زمونږ
د نقشې څخه خبر شول چې مونږ څه کوو، نو هغوی په مونږ باندې
ملنډې ووهلې او زمونږ سپکاوی یې وکړ، ویې ویل: «تاسو څه
کوئ؟ ایا غواړئ چې د پاچا په وړاندې سرغړونه وکړئ؟»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۰ ما ځواب ورکړ: «د اسمانونو خدای به مونږ ته بری راکړي.
مونږ د هغه خدمتګاران یو او مونږ به د بیا ودانولو کار پیل کړو. خو
تاسو نه د اورشلیم په چارو کې حق لرئ او نه د هغه په جایداد کې
برخه لرئ او نه د هغه په دود او دستور او تاریخ کې شریک یئ.»

## د اورشلیم د دېوال بیا ودانېدل

# ۳
۱ بیا مشر کاهن الیاشیب او د هغه ملګرو کاهنانو د پسه
دروازه بېرته جوړه کړه، هغه یې وقف کړه او دروازې یې بېرته په
خپل ځای کې کېښودلې. هغوی هغه دېوال د سلو د برج او د
حننیل تر برج پورې ودان او وقف کړ. ۲ د دېوال بله برخه د
اریحا خلکو ودانه کړه. ورپسې برخه یې د امري زوی زکور ودانه
کړه.

۳ د هسناه طایفې د ماهي دروازه جوړه کړه. هغوی تیرونه او
دروازې په خپلو ځایونو کې کېښودلې او په هغو کې یې د دروازې د
بندولو دپاره قلفکونه او اړمونه هم کېښودل. ۴ مریموت چې د
اوریا زوی او د هقوس لمسی ؤ د دېوال بله برخه جوړه کړه. د برکیا
زوی او د مشیزبییل لمسي مشلام د دېوال بله برخه جوړه کړه او بله
برخه یې صادوق د بعنه زوی جوړه کړه. ۵ د دېوال بله برخه د
تقوع خلکو جوړه کړه، خو د تقوع مشرانو د هغه کار څخه انکار وکړ
چې د کار د مسوولانو له خوا هغوی ته ورسپارل شوی ؤ.

۶ یویاداع د فاسیح زوی او مشلام د بسودیا زوی د یشانه دروازه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جوړه کړه. هغوی تیرونه او د دروازې پلې په خپلو ځایونو کې
کېښودلې او په هغو کې یې د دروازې د بندولو دپاره قلفکونه او
اړمونه هم کېښودل. ۷ د جبعون څخه ملتیا، د میرونوت څخه
یادون او د جبعون او مصفه خلکو د فرات د سیند د لوېدیځې خوا د
سیمې د والي تر استوګنځي پورې د دېوال بله برخه جوړه کړه. ۸
د دېوال بله برخه عزییل د حرهایا زوی چې زرګر ؤ جوړه کړه.
حننیا چې د عطر جوړوونکو څخه ؤ تر پلن دېواله پورې د دېوال بله
برخه جوړه کړه. ۹ رفایا د حور زوی چې د اورشلیم د نیمې
ناحیې حاکم ؤ، د دېوال بله برخه جوړه کړه. ۱۰ یدعیا د حروماف
زوی د دېوال هغه برخه جوړه کړه چې د هغه د کور مخې ته وه. د
دېوال بله برخه حطوش د حشبنیا زوی جوړه کړه. ۱۱ ملکیا د
حاریم زوی او حشوب د فحت موآب زوی د دېوال ورپسې برخه او
هم د تنورونو برج جوړ کړ. ۱۲ شلوم د هلوحیش زوی چې د
اورشلیم د بلې نیمې ناحیې حاکم ؤ، د دېوال بله برخه جوړه کړه. د
هغه لورګانو د هغه سره په دې کار کې مرسته وکړه.

۱۳ حانون او د زانوح د ښار اوسېدونکو د درې دروازه بېرته جوړه
کړه. هغوی د دروازې پلې په خپلو ځایونو کې کېښودلې او په هغو
کې یې د دروازې د بندولو دپاره قلفکونه او اړمونه هم کېښودل.
وروسته یې د خزلو د دروازې پورې څلور سوه او پنځوس متره
دېوال بیا جوړ کړ.

۱۴ ملکیا د رکاب زوی چې د بیت هکاریم د ناحیې حاکم ؤ، د
خزلو دروازه یې بېرته جوړه کړه. هغه د دروازې پلې په خپلو ځایونو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کې کېښودلې او په هغو کې يې د دروازې د بندولو دپاره قلفکونه او
اړمونه هم کېښودل.

۱۵ شلون د کلحوزه زوی چې د مصفه د ناحيې حاکم ؤ، د فوارې
دروازه يې بېرته جوړه کړه. هغه د دروازې چت جوړ کړ، د دروازې
پلې يې په خپلو ځايونو کې کېښودلې او په هغو کې يې د دروازې د
بندولو دپاره قلفکونه او اړمونه هم کېښودل. هغه د سيلوحا د حوض
څخه چې د شاهي باغ په څنګ کې ؤ د هغو زينو پورې چې د داود
د ښار څخه کوزې شوې وې، دېوال ودان کړ. ۱۶ نحميا د عزبوق
زوی چې د بيت صور د نيمې ناحيې حاکم ؤ، د دېوال بله برخه چې
د داود د کورنۍ هديرې، حوض او عسکري قشلو پورې رسېدله،
جوړه کړه.

## هغو لاويانو چې په دېوال باندې يې کار کاوه

۱۷ هغه لاويان چې د دېوال څو نورې برخې يې جوړې کړې، دا
دي: رحوم د باني زوی لومړنۍ برخه جوړه کړه. حشبيا چې د قعيلې
د نيمې ناحيې حاکم ؤ، د خپلې ناحيې په استازيتوب بله برخه جوړه
کړه. ۱۸ بوای د حيناداد زوی چې د قعلې د ناحيې د بلې نيمايي
برخې حاکم ؤ، بله برخه جوړه کړه. ۱۹ ايصر د يشوع زوی چې د
مصفې حاکم ؤ، د دېوال هغه بله برخه جوړه کړه چې هغې لارې ته
مخامخ وه چې جبه خانې او د وسلو ګودام ته ورختلې وه او د دېوال
تر کنجه پورې رسېدله. ۲۰ باروک د زبای زوی د دېوال بله برخه
چې د مشر کاهن الياشيب د کور تر دروازې پورې رسېدله، جوړه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړه. ۲۱ مریموت چې د یوریا زوی او د هقوس لمسی ؤ، یوه بله
برخه د الیاشیب د کور د دروازې څخه د هغه د کور تر پایه پورې
جوړه کړه.

## هغو کاهنانو چې په دېوال باندې یې کار کاوه

۲۲ هغه کاهنان چې د دېوال څو نورې برخې یې جوړې کړې، دا
دي: د اورشلیم د شاوخوا سیمې کاهنانو د دېوال بله برخه جوړه کړه.
۲۳ بنیامین او حشوب هغه برخه جوړه کړه چې د هغوی کور ته
مخامخ وه. د معسیا زوی او د عننیا لمسي عزریا هغه برخه جوړه کړه
چې د هغه د کور په خوا کې وه. ۲۴ بنوي د حیناداد زوی بله برخه
جوړه کړه چې د عزریا د کور څخه د دېوال تر کنجه پورې وه. ۲۵-
۲۶ فالال د اوزای زوی بله برخه جوړه کړه چې د دېوال د کنج او
د هغې پورتنۍ ماڼۍ د برج څخه پیل شوې وه چې د ساتونکو
حوېلۍ ته نژدې وه. فدایا د فرعوش زوی بله برخه جوړه کړه چې په
ختیځ کې د اوبو د دروازې او د خدای د کور د پهره داری برج ته
مخامخ وه. (دا د ښار هغې برخې ته نژدې وه چې د عوفل په نوم
یادېدله او د خدای د کور خدمتګاران په کې اوسېدل.)

## د دېوال نور ودانوونکي

۲۷ د تقوع خلکو د دېوال بله برخه جوړه کړه او دا د هغوی دوهمه
برخه وه. هغه برخه د هغه ځای څخه پیل شوې وه چې د خدای د
کور د ښارني لوی برج ته مخامخ وه او د عوفل تر دېواله پورې
رسېدله. ۲۸ د کاهنانو یوې ډلې د دېوال بله برخه جوړه کړه چې د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اسونو د دروازې په شمال کې وه. هر يو په هغې برخې باندې کار
کاوه چې د هغه د کور په مخکې وه. ۲۹ صادوق د يمير زوی د
ديوال بله برخه جوړه کړه چې د هغه د کور په مخکې وه. شمعيه د
شکنيا زوی چې د ختيځې دروازې ساتونکی ؤ، د ديوال بله برخه
جوړه کړه. ۳۰ حننيا د شلميا زوی او حانون د صالاف شپږم زوی
د ديوال بله برخه جوړه کړه چې دا د هغوی دپاره دوهمه برخه وه.
مشلام د برکيا زوی د ديوال بله برخه جوړه کړه چې د هغه د کور په
مخکې وه. ۳۱ ملکيا چې يو زرګر ؤ، د ديوال هغه برخه جوړه کړه
چې د خدای د کور د کار کوونکو او سوداګرانو تر کوره پورې
رسېدله. دا ځای د حاضرۍ دروازې ته مخامخ ؤ چې هغې کوټې ته
نژدې ؤ چې د ديوال په شمال ختيځ کنج باندې وه. ۳۲ زرګرانو او
سوداګرانو د ديوال وروستنۍ برخه چې د کنج د کوټې څخه د پسه تر
دروازې پورې رسېدله، جوړه کړه.

## د بيا ودانولو سره مخالفت

۴
۱ کله چې سنبلط واورېدل چې مونږ يهوديان د ديوال په بيا
ودانولو باندې بوخت وو، هغه ډېر په قهر شو او په مونږ باندې يې
ملنډې ووهلې. ۲ هغه د خپلو ملګرو او د سامريانو د لښکرو په
مخکې وويل: «دا بېچاره يهوديان څه کوي؟ ايا دوی نيت لري چې دا
ښار بيرته ودان کړي؟ ايا دوی فکر کوي چې د قربانيو په وړاندې
کولو سره به وکولای شي چې دا کار په يوه ورځ کې پای ته
ورسوي؟ ايا دوی کولای شي چې د دې سوځېدلي ښار د ډېريو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څخه د ودانۍ تيږې جوړې کړي؟»

۳ طوبيا د هغه په څنګ کې ولاړ ؤ او ويې ويل: «هغوی څه ډول
دېوال جوړوي؟ که چيرې يو ګيدړ هم په هغه باندې وخيژي، نو د
هغوی دغه د تيږو دېوال ورانولی شي!» ۴ ما دعا وکړه: «ای
زمونږ خدايه! واوره چې هغوی څنګه په مونږ باندې ملنډې وهي. دا
ملنډې دې په خپله په هغوی باندې ووهل شي. د هغوی هرڅه دې
لوټ شي او هغوی دې پردي وطن ته د اسيرانو په توګه يوووړل شي.
۵ د هغوی بد کارونه مه بخښه او د هغوی ګناهونه مه هېروه،
ځکه چې هغوی د معمارانو يعنې زمونږ سپکاوی کوي.»

۶ نو مونږ د دېوال بيا ودانولو ته دوام ورکړ او د هغه لوړوالی
نيمايي ته ورسېده، ځکه چې خلکو په شوق سره کار کاوه.

۷ خو کله چې سنبلط، طوبيا او د عربو، عمون او اشدود خلکو
واورېدل چې د اورشليم د دېوال د بيا جوړولو کار پرمخ روان دی او
د دېوال سوري بنديږي، نو هغوی ډېر په قهر شول. ۸ نو هغوی
ټولو دسيسه جوړه کړه چې راشي او په اورشليم باندې بريد وکړي او
ګډوډي جوړه کړي، ۹ خو مونږ خپل خدای ته دعا وکړه او د
خپل ځان د ساتنې دپاره مو د هغوی په وړاندې شپه او ورځ
ساتونکي ځای په ځای کړل.

۱۰ د يهودا خلکو دا سندره وويله:

«مونږه ستړي شوي يو په وړلو د بارونو سره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څنګه به يوورل شي دومره ماتې تيږې

څنګه جوړوو به مونږه دا ديوال؟»

١١ زمونږ دښمنانو به ويل: «مخکښې له دې چې يهوديان په دې پوه
شي چې څه وشول، مونږ به په غلا ورشو او هغوی به ووژنو، ترڅو د
هغوی د کار مخه ونيسو.» ١٢ خو هغه يهوديان چې زمونږ دښمنانو
ته نژدې اوسېدل، هغوی به بيا بيا راتلل او مونږ به يې د دښمنانو د
هغو نقشو څخه خبرولو چې زمونږ په ضد به يې جوړولې. ١٣ نو
ما خلک ولېږل چې د ديوال په هغو ټيټو ځايونو کې چې لا جوړ
شوي نه وو، پهره وکړي. هغوی مې د کورنيو په ترتيب ځای په ځای
کړل او د خپلو تورو، نېزو او ليندو سره هلته ودرېدل.

١٤ کله چې ماته معلومات وشو، نو زه پاڅېدم او مشرانو، مامورانو
او د قوم پاتې خلکو ته مې وويل: «د خپلو دښمنانو څخه مه
وېرېږئ. دا ياد ساتئ چې ښښتن څومره لوی او هيبتناک دی. نو
تاسو د خپلو خپلوانو، اولادونو، ښځو او کورونو په خاطر
وجنګېږئ.» ١٥ زمونږ دښمنان پوه شول چې مونږ د هغوی د
دسيسې څخه خبر يو او هغوی په دې باندې هم پوه شول چې خدای
د هغوی پلانونه شنډ کړي دي. نو مونږ ټول بېرته لاړو چې د ديوال د
بيا ودانولو کار وکړو.

١٦ د هماغه وخت څخه وروسته زما نيمو خلکو کار کاوه او نيمو
خلکو چې د زغرو کالي يې اغوستي وو او په نېزو، سپرونو او ليندو
باندې سمبال وو، پهره کوله. مشرانو د کار کوونکو ملاتړ کاوه. ١٧

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه ځوک چې د دېوال په ودانولو باندې بوخت وو او هغو خلکو
چې د ودانۍ مواد به يې وړل، په يو لاس کې به يې وسله نيولې وه او
په بل لاس به يې کار کاوه. ١٨ د معمارانو څخه به هر يو خپله
توره تر ملا تړلې وه او کار به يې کاوه. هغه سړی چې د خطر سرنی
يې واهه، زما په څنګ کې ولاړ ؤ. ١٩ نو ما شريفو خلکو او د
هغوی مامورانو او نورو خلکو ته وويل: «زمونږ کار ډېر دی او ساحه
يې دومره پراخه ده چې مونږ يو د بل څخه په يو لېرې فاصله کې يو.
٢٠ کله چې تاسو د سرني اواز واورېد، زر راشئ او زما په شاوخوا
باندې راټول شئ. زمونږ خدای به زمونږ دپاره وجنګېږي.» ٢١ نو
هره ورځ به د سباوون څخه د شپې د ستورو د راختلو پورې زمونږ
نيمو کسانو په دېوال باندې کار کاوه او نورو نيمو به د خپلو نېزو سره
ولاړ او پهره به يې کوله.

٢٢ په دې وخت کې ما د کار مسوولانو ته وويل چې دوی دې د
خپلو مرستيالانو سره د شپې له خوا په اورشليم کې پاتې شي، ترڅو
هغوی وکولای شي چې د شپې له خوا د ښار ساتنه وکړي او د
ورځې له خوا کار وکړي. ٢٣ په دې وخت کې ټولو خپل کالي نه
ويستل او تل به په وسلو سمبال وو. نه ما، نه زما خپلوانو، نه زما
خدمتګارانو او نه زما ساتونکو، حتی هغه وخت چې د اوبو دپاره
تلل، وسله به يې په ځمکه نه ايښودله.

## نحميا د غريبانو سره مرسته کوي

٥ ١ په دې وخت کې زيات شورماشور جوړ شو. ډېرو خلکو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د هغوی ښځو د نورو یهودیانو په ضد شکایت پیل کړ. ۲ ځینو
وویل: «زمونږ کورنی ډېرې لویې دي، نو مونږ غلو دانو ته اړتیا لرو
ترڅو ژوندي پاتې شو.»

۳ نورو وویل: «مونږ مجبور یو چې خپل پټي، د انګورو باغونه او
خپل کورونه ګرو کړو، ترڅو د دې قحطۍ په وخت کې په پوره اندازه
غلې دانې په بیه واخلو.»

۴ نورو وویل: «مونږ مجبور شو چې پاچا ته د خپلو پټیو او
انګورو د باغونو د مالیې د ورکولو دپاره پیسې پور کړو. ۵ مونږ
لکه د نورو یهودیانو په شان د یو قوم څخه یو. زمونږ اولادونه هم د
هغوی د اولادونو په شان دي. خو مونږ مجبور یو چې خپل اولادونه
غلامان کړو او زمونږ د لورګانو څخه ځینې لا پخوا د وینځو په توګه
خرڅې شوې دي. مونږ بې وسه یو، ځکه چې زمونږ پټي او د انګورو
باغونه ګرو شوي دي.»

۶ کله چې ما د هغوی شکایتونه او تورونه واورېدل، ډېر په قهر
شوم. ۷ د فکر کولو نه وروسته ما د قوم مشران او مامورین
ملامته کړل او هغوی ته مې وویل: «تاسو ولې د خپلو خپلوانو څخه
ضمانت اخلئ؟»

بیا مې د هغوی په ضد لویه جرګه راوغوښتله. ۸ هغوی ته مې
وویل: «ترڅو پورې چې مونږ کولای شول، خپل یهودي خپلوان مو
چې په پردیو قومونو باندې خرڅ شوي وو، بېرته واخیستل. اوس
تاسو هغوی دې ته مجبوروئ چې خپل ځانونه په مونږ، یعنې په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپلو خلکو باندې خرڅ کړي!» مشرانو غلې شول او ځواب يې نه
درلود.

٩ بيا مې ووېل: «تاسو چې کوم کار کوئ هغه ښه نه دی! تاسو
بايد د خدای څخه ووېرېږئ او هغه کار وکړئ چې ښه وي. نو تاسو
بايد زمونږ دښمنانو يعنې غيريهوديانو ته وخت ورنه کړئ چې په
مونږ باندې ملنډې ووهي. ١٠ ما، زما خپلوانو او زما ملګرو، خلکو
ته پيسې او غلې دانې په پور ورکړې دي، خو مونږ بايد د هغو په بدل
کې ضمانت ونه غواړو. ١١ تاسو چې د هغوی پټې، د انګورو
باغونه، د زيتونو باغونه او کورونه او هم هغه سود چې د پيسو، غلو
دانو، شرابو او د زيتونو د تېلو په خاطر د هغوی څخه اخيستی دی،
همدا نن بېرته ورکړئ.»

١٢ مشرانو ځواب ورکړ: «څنګه چې تاسو وايئ هماغسې به وکړو.
مونږ به د هغوی جايداد بېرته ورکړو او خپل پورونه به ورڅخه نه
غواړو.»

کاهنان مې راوغوښتل او د هغوی په مخکې مې مشرانو او مامورينو
ته قسم ورکړ چې په هغې وعدې باندې چې همدا اوس يې وکړه
ټينګ ودرېږي. ١٣ بيا مې خادر راوويست او هغه مې وشنډلو. بيا
مې ووېل: «ستاسو څخه هرڅوک چې په خپله وعده باندې ونه
درېده، نو خدای به هغه همداسې وشنډي. هغه به ستاسو څخه ستاسو
کورونه او ټول شيان واخلي او تاسو ته به هېڅ شی پرېنږدي.»

هرڅوک چې حاضر ؤ ويې ويل: «آمين!» او د خښتن ثنا يې وويله.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځنګه چې خلکو وعده وکړه، هماغسې يې وکړل.

## د نحميا سخاوت

۱۴ د دې ټولو دولسو کالو په دوران کې چې زه د يهودا والي وم،
يعنې د ارتخششتا د پاچاهۍ د شلم کال څخه تر دوه دېرشم کاله
پورې نه ما او نه زما خپلوانو د والي دپارهغه ټاکل شوې ډوډۍ
خوړله. ۱۵ زما څخه مخکې هر والي به په خلکو باندې دروند بار
ايښوده، يعنې د هغوی څخه به يې د خوړو او شرابو دپاره د ورځې
څلوېښت مثقاله سپين زر غوښتل. حتی د هغوی مامورينو به په
خلکو باندې ظلم کاوه. خو ما داسې کار نه کاوه، ځکه چې د خدای
څخه وېرېدم. ۱۶ ما خپل ټول قوت او طاقت د دېوال په بيا
ودانولو باندې ولګاوه او هېڅ ځمکه مې د ځان دپاره وانه خيستله.
زما ټول خدمتګاران هلته د کار دپاره راټول شوي وو. ۱۷ برسېره
پر هغو ټولو خلکو چې د شاوخوا قومونو څخه به ماته راتلل، ما تل
د يهوديانو يو سلو پنځوسو کسانو او د هغوی مامورينو ته په خپل
دسترخوان باندې ډوډۍ ورکوله. ۱۸ ما به هره ورځ يو غويی، شپږ
چاغ پسونه، چرګان او په هرو لسو ورځو کې به مې يوځل په زياته
اندازه هر ډول شراب تيارول. ما د والي په توګه د خپلو خوړو د
لګښت غوښتنه نه ده کړې. زه پوهېدم چې دا په خلکو باندې څومره
دروند بار دی.

۱۹ ای زما خدايه، ما در په ياد کړه او د هغه څه په خاطر چې د
دې خلکو دپاره مې کړي دي ماته برکت راکړه.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د نحمیا په خلاف دسیسې

۶ ۱ سنبلط، طوبیا، جشم چې عرب ؤ او زمونږ نورو دښمنانو
واورېدل چې مونږ د دېوال د ودانولو کار پای ته رسولی دی او په
هغه کې هېڅ سوری پاتې نه دی. یوازې د دروازو د پلو د ایښودلو
کار پاتې ؤ. ۲ نو سنبلط او جشم ماته یو پیغام راولېږه او دا
وړاندیز یې وکړ چې د هغوی سره د اونو په ډاګ کې په یوه کلي کې
وګورم. زه پوه شوم چې دا د هغوی یو چل ؤ او غوښتل یې چې ماته
زیان ورسوي. ۳ هغوی ته مې استازي ورولېږل چې داسې ورته
ووایي: «زه په یو مهم کار باندې بوخت یم. زه نه شم کولای چې
خپل کار پرېږدم، هلته درشم او ستاسو سره وګورم.»

۴ هغوی څلور ځلې هماغه پیغام راولېږه او ما ورته هر ځل
هماغه ځواب ورلېږه.

۵ نو سنبلط خپل خدمتګار د پنځم ځل دپاره د یو لیک سره
راولېږه، دا یو سرخلاصی لیک ؤ. ۶ په هغه کې داسې لیکل شوي
وو:

«جشم وایي چې د ګاونډیو قومونو په منځ کې داسې اوازې
دي چې ته او یهودیان اراده لرئ چې سرغړونه وکړئ، نو په
دې خاطر تاسو دا دېوال ودانوئ. دا هم وایي چې ته غواړې
خپل ځان د هغوی پاچا کړې. ۷ همدارنګه تا نبیان هم
ټاکلي دي چې په اورشلیم کې داسې اعلان وکړي چې نحمیا
د یهودا پاچا دی. نو دا خبر به بېرته پاچا ته ورسیږي، ښه به

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دا وي چې زما سره وګورې، ترڅو په دې اړه يو د بل سره مشوره وکړو.»

٨ ما هغه ته ځواب ورولېږه: «ته چې څه وايې په هغې کې هېڅ رښتيا نشته. دا ټولې خبرې تا د خپله ځانه جوړې کړې دي.»

٩ هغوی ټولو هڅه کوله چې مونږ وويروي او د دې کار څخه لاس واخلو. خو ما خدای ته دعا وکړه چې ماته قوت راکړه.

١٠ شمعيه د دلايا زوی او د مهيتبيل لمسي نه شو کولای چې خپل کور پرېږدي، نو زه د هغه د ليدلو دپاره لاړم. چې کله يې زه وليدم، ويې ويل: «بايد د خدای په کور کې پټ شو او دروازې قلف کړو، ځکه چې هغوی د شپې راځي چې تا ووژني.»

١١ ما ځواب ورکړ: «زه داسې سړی نه يم چې وتښتم او پټ شم. ايا ته فکر کوې چې زه به د خدای په کور کې په پټېدلو سره خپل ژوند وژغورم؟ زه به دا کار ونه کړم.»

١٢ کله چې ما په دې اړه فکر وکړ نو پوه شوم چې خدای شمعيه نه دی رالېږلی، بلکې طوبيا او سنبلط هغه ته رشوت ورکړی دی چې ماته دا خبرداری راکړي. ١٣ هغوی هغه اجير نيولی ؤ چې ما وويروي او ګناه وکړم، ترڅو هغوی وکولای شي چې زما نوم بد کړي او ومې شرموي.

١٤ ما دعا وکړه: «ای زما خدايه، هغه څه چې طوبيا او سنبلط

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړل هغه در په یاد کړه او هغوی ته سزا ورکړه. همدارنګه نوعدیه پیغمبره او نور ټول نبیان در په یاد کړه چې غوښتل یې ما ووېروي.»

## د دېوال د کار سرته رسېدل

١٥ دېوال په دوه پنځوس ورځو کې د ایلول د میاشتې په پنځه ویشتمه نېټه پای ته ورسېده. ١٦ کله چې زمونږ ټول دښمنان خبر شول چې کار پای ته ورسېده، نو شاوخوا قومونه ووېرېدل او رسوا شول، ځکه چې هغوی په دې پوه شول چې زمونږ خدای د دېوال په بیا ودانولو کې زمونږ سره مرسته کړې ده.

١٧ په دې ټوله موده کې یهودي مشرانو او طوبیا یو بل ته لیکونه استول. ١٨ دوه دلیلونه وو چې په یهودا کې ډېرو خلکو د طوبیا سره قسم کړی ؤ: یو دا چې شکنیا د آرح زوی د هغه خسر ؤ او بل دا چې د طوبیا زوی یهوحانان د برکیا د زوی مشلام د لور سره واده کړی ؤ. ١٩ خلکو به زما په مخکې د طوبیا د ښو کارونو په اړه خبرې کولې او زما خبرې به یې هغه ته رسولې. نو طوبیا به لیکونه رالیږل چې ما ووېروي.

٧ ١ نو دېوال ودان شو، ټولې دروازې په خپلو ځایونو کې کېښودل شوې او د خدای د کور ساتونکو، سندرغاړو او لاویانو ته خپل کارونه وسپارل شول. ٢ دوه کسان مې د اورشلیم د ښار د اداره کولو دپاره د چارواکو په توګه وټاکل: زما ورور حناني او د جنګي کلا قوماندان حننیا. حننیا د ډېرو خلکو په پرتله یو اعتباري

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سړي ؤ او له خدايه وېرېده. ۳ ما هغوی ته وويل: «د اورشليم
دروازې تر هغه وخته پورې مه خلاصوئ ترڅو لمر ښه نه وي
راختلی او د لمر پرېوتلو په وخت کې يې د ساتونکو د رخصتېدلو
څخه مخکې تړئ او اړم ورته اچوئ.» هغوی ته مې دا هم وويل چې
د اورشليم د اوسېدونکو څخه ساتونکي وټاکي او د هغوی څخه
ځيني کسان پوستو ته ورکړي او نور دې د خپلو کورونو په شاوخوا
سيمه کې ګزمه وکړي.

## د راستانه شوو جلاوطنو لست

(عزرا ۲: ۱ – ۷۰)

۴ اورشليم يو لوی او پراخه ښار ؤ، خو ډېر خلک په کې نه
اوسېدل او تر هغه وخته پورې لا کورونه په کې بېرته جوړ شوي نه
وو. ۵ خدای دا فکر زما په زړه کې واچاوه چې قوم او د هغوی
مشران او مامورين د هغو د کورنيو د سوانحو د ثبتولو دپاره راټول
کړم. ما د هغو خلکو نسب نامې راپيدا کړې چې د اسيرتوب څخه
لومړی راستانه شوي وو او دا هغه معلومات دی چې ما راپيدا کړ:

۶ ډېرو جلاوطنو خلکو د بابل ولايت پرېښود او اورشليم او
يهودا ته يعنې خپلو ښارګوټو ته راستانه شول. له هغه وخت څخه
چې نبوکدنصر پاچا هغوی د اسيرانو په توګه بابل ته بيولي وو، د
هغوی کورنۍ هلته په جلاوطنۍ کې اوسېدلې. ۷ دا د هغوی
مشران وو: زروبابل، يشوع، نحميا، عزريا، رعميا، نحماني، مردخای،
بلشان، مسفارت، بغوای، نحوم او بعنه.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۸-۲۵ دا د اسراییلو د طایفو لست دی چې په هغه کې د هرې طایفې د خلکو شمېر لیکل شوی دی چې د جلاوطنۍ څخه راستانه شوي وو:

د فرعوش له طایفې څخه – ۲۱۷۲ تنه

د شفطیا له طایفې څخه – ۳۷۲ تنه

د آرح له طایفې څخه – ۶۵۲ تنه

د فحت موآب له طایفې څخه چې د یشوع او یوآب د اولادې څخه وو – ۲۸۱۸ تنه

د عیلام له طایفې څخه – ۱۲۵۴ تنه

د زتو له طایفې څخه – ۸۴۵ تنه

د زکي له طایفې څخه – ۷۶۰ تنه

د بنوي له طایفې څخه – ۶۴۸ تنه

د ببای له طایفې څخه – ۶۲۸ تنه

د عزجد له طایفې څخه – ۲۳۲۲ تنه

د ادونیقام له طایفې څخه – ۶۶۷ تنه

د بغوای له طایفې څخه – ۲۰۶۷ تنه

د عادین له طایفې څخه – ۶۵۵ تنه

د آطیر له طایفې څخه چې د حزقیا په نوم هم یادېده – ۹۸ تنه

د حاشوم له طایفې څخه – ۳۲۸ تنه

د بیسای له طایفې څخه – ۳۲۴ تنه

د حاریف له طایفې څخه – ۱۱۲ تنه

د جبعون له طایفې څخه – ۹۵ تنه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۶-۳۸ هغه خلک چې نيکونه يې په لاندېنيو ښارګوټو کې اوسېدل، هم راستانه شول:

د بيت لحم او نطوفه ښخه - ۱۸۸ تنه

د عناتوت ښخه - ۱۲۸ تنه

د بيت عزموت ښخه - ۴۲ تنه

د قريت يعاريم، کفيرې او بيروت ښخه - ۷۴۳ تنه

د رامې او جبعې ښخه - ۶۲۱ تنه

د مخماس ښخه - ۱۲۲ تنه

د بيت ييل او عای ښخه - ۱۲۳ تنه

د بل نبو ښخه - ۵۲ تنه

د بل عيلام ښخه - ۱۲۵۴ تنه

د حاريم ښخه - ۳۲۰ تنه

د اريحا ښخه - ۳۴۵ تنه

د لود، حاديد او اونو ښخه - ۷۲۱ تنه

د سناعه ښخه - ۳۹۳۰ تنه

۳۹-۴۲ دا د هغو کاهنانو د طايفو لست دی چې د جلاوطنۍ ښخه راستنې شوې:

د يدعيا د طايفې ښخه چې د يشوع د اولادې ښخه وو - ۹۷۳ تنه

د يمير د طايفې ښخه - ۱۰۵۲ تنه

د فشحور د طايفې ښخه - ۱۲۴۷ تنه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د حاریم د طایفې څخه - ۱۰۱۷ تنه

۴۳-۴۵ د لاویانو هغه طایفې چې د جلاوطنۍ څخه راستنې شوې:

د یشوع او قدمي ییل د طایفو څخه چې د هودویا اولاده وه - ۷۴ تنه

د خدای د کور د سندرغاړو څخه چې د اساف اولاده وه - ۱۴۸ تنه

د خدای د کور د ساتونکو څخه چې د شلوم، آطیر، طلمون، عقوب، حطیطا او شوبای اولاده وه- ۱۳۸ تنه

۴۶-۵۶ د خدای د کور د خدمتګارانو طایفې چې د جلاوطنۍ څخه راستنې شوې:

صیحا، حسوفا، تباعوت، قیروس،
سیعا، فادون، لبانه، حجابه، شلمای،
حانان، جدیل، جحر، ریایاه، رزین،
نقودا، جزام، عزه، فاسیح، بیسای،
معونیم، نفوشسیم، بقبوق، حقوفا،
حرحور، بزلیت، محیدا، حرشا،
برقوس، سیسرا، تامح، نصیح او حطیفا.

۵۷-۵۹ د سلیمان د خدمتګارانو هغه طایفې چې د جلاوطنۍ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شخه راستني شوې:

سوطای، صوفرت، فریدا،

یعله، درقون، جدیل، شفطیا،

حطیل، فوخرت حظبایم او آمون.

۶۰ د خدای د کور د خدمتګارانو او د سلیمان د خدمتګارانو د اولادې ټول شمېر چې د جلاوطنۍ شخه راستانه شوي وو، ۳۹۲ تنه وو.

۶۱-۶۲ شپږ سوه دوه څلوېښت تنه د دلایا، طوبیا او نقودا د طایفو شخه وو او د تل ملح، تل حرشا، کروب، ادون او یمیر د ښارګوټو شخه راستانه شوي وو، خو هغوی نه شو کولای دا ثابته کړي چې د اسراییلیانو د اولادې شخه دي.

۶۳-۶۴ د کاهنانو دغو لاندېنیو طایفو ونه شو کولای چې خپلې سوانح راپیدا کړي، ترڅو خپل نیکونه ثابت کړي: حبایا، هقوس او برزلای. (د برزلای د کاهنانو د طایفې نیکه د جلعادي برزلای د طایفې د یوې ښځې سره واده کړی ؤ او د خپل خسر د طایفې په نوم یاد شو.) څرنګه چې هغوی نه شو کولای دا ثابته کړي چې د هغوی نیکونه څوک وو، نو هغوی ناپاک ګڼل کېدل، نو ځکه د کاهنانو په توګه ونه منل شول. ۶۵ د یهودیانو والي هغوی ته وویل: «تر هغې پورې چې د کوم کاهن له خوا د اوریم او تمیم په وسیله معلومه نه شي چې تاسو په رښتیا سره کاهنان یئ، تاسو نه شئ کولای هغه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ډوډۍ وخورئ چې خدای ته وړاندې کیږي.»

۶۶-۶۹ د هغو جلاوطنو خلکو شمېر چې راستانه شوي وو، ټول ۴۲۳۶۰ تنه وو. برسېره پر دې هلته ۷۳۳۷ تنه نارینه او ښځینه خدمتګاران وو. د نارینه او ښځینه سندرغاړو شمېر دوه سوه پنځه څلوېښت تنه وو. لاندیني څاروي هم ورسره وو:

اسونه – ۷۳۶
قچرې – ۲۴۵
اوښان – ۴۳۵
خره – ۶۷۲۰

۷۰-۷۲ د طایفو ځینو مشرانو د خدای د کور د بیا ودانولو د لګښت دپاره مرسته وکړه. والي دا شیان خزانې ته ورکړل: اته کیلوګرامه سره زر، د مراسمو د سرته رسولو په خاطر ۵۰ دانې کاسې او د کاهنانو دپاره ۵۳۰ چپنې. د طایفو ځینو مشرانو دا شیان خزانې ته ورکړل: ۱۶۸ کیلوګرامه سره زر او ۱۲۵۰ کیلوګرامه سپین زر. نورو خلکو دا شیان ورکړل: ۱۷۰ کیلوګرامه سره زر، ۱۱۰۰ کیلوګرامه سپین زر او د کاهنانو دپاره ۶۷ چپنې.

۷۳ نو کاهنان، لاویان، د خدای د کور ساتونکي، سندرغاړي، نور خلک، د خدای د کور خدمتګاران یعنې د اسراییلو ټول قوم د یهودا په ښارګوټو او ښارونو کې ځای په ځای شول.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## عزرا خلکو ته په لوړ اواز تورات لولي

۸ ۱ په اوومه مياشت د اسراييلو قوم ټول په خپلو ښارونو کې
ځاى په ځاى شول. د همدې مياشتې په اوله ورځ هغوى ټول په
اورشليم کې د اوبو د دروازې مخې ته په انګړ کې سره راټول شول.
هغوى د عزرا څخه چې د شريعت عالم ؤ، وغوښتل چې د تورات
کتاب چې څښتن د موسى په وسيله اسراييلو ته ورکړى ؤ، راوړي.
۲ نو عزرا هغه کتاب هغه ځاى ته راوړ چې خلک په کې راټول
شوي وو، يعنې سړي، ښځې او هغه ماشومان چې په داسې عمر کې
وو چې د پوهېدلو توان يې درلود. ۳ عزرا دروازې ته په مخامخ
انګړ کې د سهار وختي څخه تر غرمې پورې هغوى ته تورات
ولوست او هغوى ټولو ورته په غور سره غوږ نيولى ؤ.

۴ عزرا د لرګي په منبر باندې چې د همدې مقصد دپاره جوړ
شوى ؤ، ولاړ ؤ. د هغه ښي لاس ته متتيا، شمع، عنايا، اوريا، حلقيا
او معسيا او چپ لاس ته يې فدايا، ميشاييل، ملکيا، حاشوم،
حشبدانه، زکريا او مشلام ولاړ وو.

۵ عزرا په يو داسې لوړ ځاى کې ولاړ ؤ چې هرچا ليدلى شو.
کله چې هغه کتاب پرانيست، هغوى ټول ودرېدل. ۶ عزرا لوى
څښتن خداى ته ثنا وويله او ټول قوم خپل لاسونه پورته کړل او په
ځواب کې يې وويل: «امين! امين!» هغوى په سجده شول او د څښتن
عبادت يې وکړ.

۷ وروسته بيا هغوى پاڅېدل او په خپلو ځايونو کې ودرېدل او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دغو لاویانو ورته د تورات کتاب بیان کړ: یشوع، باني، شربیا، یامین،
عقوب، شبتای، هودیه، معسیا، قلیطا، عزریا، یوزاباد، حانان او فلایا.
٨ هغوی د خدای د تورات کتاب په لوړ اواز لوست او هغه یې
تشریح کاوه، ترڅو خلک پرې پوه شي.

٩ کله چې خلکو ته شریعت لوستل کېده، هغوی په ژړا پیل وکړ.
نو نحمیا والي، عزرا کاهن او د شریعت عالم او هغو لاویانو چې
خلکو ته یې شریعت تشریح کاوه، ټولو خلکو ته وویل: «دا ورځ
ستاسو د څښتن خدای سپېڅلې ورځ ده. نو تاسو ویر او ژړا مه کوئ.
١٠ اوس خپلو کورونو ته لاړ شئ او جشن ونیسئ. د خپلو
خوندورو خوړو او شرابو څخه هغه چاته چې نه یې لري د هغوی
برخه ورکړئ. نن ورځ زمونږ د څښتن دپاره یوه سپېڅلې ورځ ده، نو
مه خفه کېږئ. د څښتن خوشحالي ستاسو قوت دی.»

١١ لاویانو هم خلک ارام کړل او هغوی ته یې وویل: «غلي شئ!
نن ورځ یوه سپېڅلې ورځ ده، نو مه ژاړئ او مه خفه کېږئ.» ١٢
نو ټول خلک خپلو کورونو ته لاړل. هغوی په ډېره خوشحالۍ سره
وخوړل او ویې څښل او څه چې یې درلودل، د هغو څخه یې نورو
ته هم د هغوی برخه ورولېږله، ځکه څه چې هغوی ته لوستل شوي
وو، ورباندې پوه شول.

## د جونګړو اختر

١٣ یوه ورځ وروسته د ټولو طایفو مشران د کاهنانو او لاویانو سره
یوځای عزرا ته ورغلل چې هغوی د تورات حکمونه زده کړي. ١٤

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی په دې پوه شول چې په شریعت کې لیکل شوي دي چې
ښتنتن د موسی په وسیله حکم کړی ؤ چې په اوومه میاشت چې
هغوی اختر لمانځي، باید په جونګړو کې واوسیږي. ۱۵ دا هغه
حکم ؤ چې هغوی باید په اورشلیم او نورو ښارګوټو کې اعلان
وکړي: «غرونو ته لاړ شئ او د زیتونو، ځنګلي زیتون، اس، خرما او
نورو ونو څانګې راوړئ چې په شریعت کې د لیکل شویو لارښوونو
سره سم د هغو څخه جونګړې جوړې کړئ.»

۱۶ نو خلکو د ونو څانګې راوړلې او د خپلو کوټو د بامونو، په
خپلو حویلیو، د خدای د کور په حویلۍ او د اوبو د دروازې او د
افرایم د دروازې په عمومي انګړونو کې یې ورڅخه جونګړې جوړې
کړې. ۱۷ هغو ټولو خلکو چې د اسیرتوب څخه بېرته راغلي وو،
جونګړې جوړې کړې او په هغو کې اوسېدل. هغوی ټول ډېر
خوشحاله وو، ځکه چې د نون د زوی یوشع د زمانې څخه تر هغې
ورځې پورې اسراییلیانو په دې ډول جشن نه ؤ لمانځلی. ۱۸ د
اختر د لومړۍ ورځې څخه تر وروستنۍ ورځې پورې عزرا هره ورځ
د خدای د تورات یوه برخه په لوړ اواز لوستله. هغوی دا اختر اووه
ورځې ولمانځه او د شریعت سره سم په اتمه ورځ نوموړي مراسم په
دعا او عبادت سره پای ته ورسېدل.

## د ګناهونو د اقرار دعا

۱-۲ د همدې میاشتې په څلورویشتمه ورځ د اسراییلو قوم
سره راغونډ شو چې روژه ونیسي، د دې دپاره چې د خپلو ګناهونو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په خاطر خپل خفګان څرګند کړي. هغوی له پخوا نه خپل ځانونه د
ټولو پردیو قومونو څخه جدا کړي وو. هغوی د خفګان د علامې په
توګه د وير کالي اغوستي وو او په خپلو سرونو باندې يې خاورې
اچولې وې. بيا هغوی ودرېدل او په هغو ګناهونو باندې يې اقرار وکړ
چې دوی او د دوی نيکونو کړي وو. ۳ هغوی درې ساعته ولاړ
وو او د خپل څښتن خدای تورات ته يې غوږ نيولی ؤ او درې ساعته
نور يې په خپلو ګناهونو باندې اقرار وکړ او د خپل څښتن خدای
عبادت يې وکړ.

۴ يشوع، باني، قدمي ييل، شبنيا، بوني، شربيا، باني او کناني په
هغه منبر باندې ودرېدل چې د لاويانو دپاره ؤ او په لوړ اواز يې خپل
څښتن خدای ته زارۍ وکړې.

۵ دغو نورو لاويانو خلکو ته د عبادت دپاره بلنه ورکړه: يشوع،
قدمي ييل، باني، حشبنيا، شربيا، هوديا، شبنيا او فتحيا. هغوی وويل:

پاڅېږئ وکړئ ستاينه مو د خپل څښتن خدای

ستاينه وکړئ د هغه د تل دپاره

هر يو دې وکړي د هغه د جلالي نوم ستايش

ثنا دې وي ستا پر جلاله نوم ته ستر چې دی د ټولو صفتونو
ځني

۶ ته څښتن يې يوازې ته څښتن يې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تا ټول اسمانونه او هم ستوري يې جوړ کړي دي

تا ځمکه درياب او هر چې دي هغو کې ټول راپيدا کړي دي

تا دی وربخښلی ژوندون ټولو ته

کړي تاته سجده ستا عبادت کړي اسماني ځواکونه

۷ ته هغه څښتن خدای يې چا غوره چې ابرام کړلو

تا هغه د کلدانيانو د اور ښار څخه راوويست

او د هغه نوم دې ابراهيم کېښود

۸ ته شوې پوه چې هغه تاته وفادار دی

او تا د هغه سره لوظ وکړ

تا وکړه وعده د کنعانيانو ځمکه وربه کړې د هغه اولادې ته

هم د حيتيانو، اموريانو ځمکه

د فرزيانو، يبوسيانو، جرجاشيانو ځمکه

ودربدلې ته خپله وعده باندې

ځکه چې ته يې وفادار

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٩ تا ولید مصر کې زمونږه د نیکونو کړاو

کله چې هغوی سرې بحیرې سره وو

تا واورېدلې چې هغوی چیغې وهلې په خاطر د مرستې

١٠ تا د فرعون او د هغه د درباریانو

او د هغه د وطن د خلکو مقابل کې

وښودلې معجزې حیرانوونکې

ځکه پوهېدلې ته چې ښنګه کبرجنه رویه وکړه

دوی زمونږ نیکونو سره

تا داسې نوم وګاټه چې پاتې دی تر نن پورې

١١ جوړه دې کړه لاره د دریاب په منځ کې خپل قوم ته

پورې وتل هغوی دریاب باندې په وچه ځمکه

ژورو اوبو ته دې ګوزار کړل هغوی

څوک چې وریسې وو ستا ولس پسې

ډوب شول لکه تیږه چې شي ډوبه توفاني دریاب کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٢ د ورځې کړه دې لارښوونه ورته ورېځ باندې

روښانوله ورته لاره دې د شپې له خوا په اور باندې

١٣ ته شوې راکوز د سینا غره باندې

اسمان نه وکړې دې خبرې دوی ته

ورکړله زده کړه دې هغوی ته د باور نه ډکه

ښه قوانین عادلانه دې ورکړل

١٤ وښوده هغوی ته دې سپېڅلې ورځ د سبت خپله

ورته دې ورکړل قوانین او تورات

په وسیله د خدمتګار خپل موسی

١٥ کله چې وږې شول هغوی

تا ورته ورکړله ډوډی له اسمانه څخه

ورته دې ورکړلې د ګټ څخه اوبه چې کله تږې شول

ودې ویل هغوی ته چې ورننوځې

ونیسي هغه ځمکه چې تا ورته قسم کړی چې وربه یې کړې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۶ خو زمونږ نیکونه شول سرزوري مغرور

سرغړونه يې وکړه ستا د اوامرو څخې

۱۷ سرغړونه يې وکړه ستا د اطاعته څنې

هغه معجزې چې تا ښودلې وې هغه يې هېرې کړلې

هغوی د خپلې سرزورۍ په سبب کړلو يو مشر غوره

چې د مصر غلامۍ ته بېرته بوځي هغوی

خو ته بخښونکی خدای يې

ته مهربانه يې او ته رحیم يې

زر ته په قهرېږې نه

د ستا تلپاتې مینه لویه ده

تا هغوی پرېښښودل

۱۸ حتی هغوی د خوسي په شکل بت جوړ کړ

او ویل يې چې دا هغه خدای دی

چې يې راوویستئ له مصر څخه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ای څښتنه! وکړ ځومره سپکاوی ستا هغوی

١٩ خو تا هغوی هلته په دښته کې پرېښښودل،

ځکه چې ستا رحمونه ډېر زيات دي

لېرې نه کړه ورېځ او اور هغوی نه دې

ورېځ به د ورځې ورته لار ښودله

اور به د شپې رڼا کوله لاره

٢٠ د خپل نېک روح په وسيله دې د هغوی وکړه لارښوونه

تا د خوراک دپاره من ورکاوه او اوبه د څښاک دپاره

٢١ ودې ساتل دښته کې څلوېښت کاله

هېڅکله محتاج نه شو هېڅ څه ته دوی

د هغوی جامې هېڅکله زړې نه شوې

د هغوی پښې له درده نه پړسېدې

٢٢ ورته دې ورکړل پاچاهيانې او قومونه

کړل دې آباد هغوی په هر ځای کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ويې نيوه د سيحون پاچا د حشبون هېواد

هم يې د عوج پاچا د باشان هېواد

٢٣ تا هغوی ته دومره زيات بچي ورکړل

دومره لکه ستوري چې اسمان کې وي

تا هغوی هغه وطن ته راوستل

چې د هغوی د نيکونو سره

د ورکولو دې وعده کړې وه

٢٤ نو د کنعان خاوره هغوی ونيوه

تا د هغه ځای اوسېدونکي کړل مغلوب هغوی ته

تا خپل قوم ته قوت ورکړ

چې هرڅه چې هغوی غواړي

ويې کړي د خلکو د کنعان سره او هم يې پاچاهانو سره

٢٥ ښارونه ونيول ستا قوم دېوال لرونکي

او هم ځمکه حاصلخيزه هغوی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د ډېرو ښو شیانو ډک کورونه او

د لا پخوا نه کیندل شوې د اوبو زېرمې

ویې نیولې د زیتونو ونې او هم

مېوه دارې ونې او هم د انګور باغونه

وخوړل ټول هغه شیان چې یې غوښتل

شول چاغ خوړلو سره

چې دې ورکړي وو هغوی ته ټول ښه شیان

هغوی ترې خوند واخیست

۲۶ خو نافرمانه شو ستا قوم او شو یاغي د ستا نه

هغوی کړه شا ستا شریعت ته کړل یې مړه ستا نبیان

خبرداری یې چې ورکړی ؤ هغوی ته

چې بیا ستا خواته دروګرځي

هغوی هر وخت ستا ستر توهین کړی دی

۲۷ نو تا هغوی خپل دښمنانو ته په لاس ورکړل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې هغوی وکړ بد سلوک ورسره

خو هغوی وکړ تاته سوال د خپل تکلیف په وخت کې مرستې لره

تا دعاګانې د هغوی اسمان نه واورېدلې

تا له امله د خپل لوی رحم

ژغورونکي ولېږل چې خلاص کړي هغوی

۲۸ کله چې سوله راغله بیا وکړه هغوی ګناه د ستا په خلاف

او تا بیا ورکړل هغوی د دښمنانو لاس ته

چې په هغوی باندې حکومت وکړي

خو بیاهم کله چې وویستله توبه هغوی

ستا نه یې سوال وکړ چې وژغورې دوی

تا په اسمان کې هغه واورېد

او په خپل رحمت دې هغوی بیا بیا وژغورل

۲۹ خبرداری دې ورکړ دوی ته چې د ستا شریعت ته بېرته راشي

خو هغوی ونه منل خپل غرور کې ستا قوانین

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

که څه هم ستا په قوانینو باندې تلل د ژوندانه لاره ده

مګر هغوی شولو سرزوري او سخت زړي اطاعت یې نه کړ

۳۰ کلونه صبر وکړ تا او په خپل روح باندې دې

خبرداری یې ورکړ دوی ته په وسیله د نبیانو سره

خو وو کاڼه ستا خلک تا پرې حاکم کړل نور قومونه

۳۱ خو بیاهم تا د خپل لوی رحمت په سبب

هغوی پرېښنبودل او نه دې کړل نابود هغوی

ته مهربانه او رحیم خدای یې!

۳۲ ای زمونږ خدایه څومره ستر یې ته

څومره ځواکمن او وېرووونکی یې ته

په وفاداری سره ولاړ یې په خپل لوظ باندې

دغه سختی او کړاوونه چې تېر کړي دي مونږ

ستا په نظر کې باید نه شي دا بې ارزښته ښکاره

له هغې ورځې پاچاهان چې د اشور بریالي شوي په مونږ بیا تر

ننه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ډېرې بلاوې نازل شوې په مونږ ټولو په شاهانو او مشرانو

زمونږ

په کاهنانو، نبیانو او نیکونو زمونږ

۳۳ ته وې په حقه چې هر ځل دې راکړه مونږ ته سزا

که څه هم مونږ ده ګناه کړې خو ته یې وفادار

۳۴ زمونږ پاچاهانو زمونږ مشرانو، کاهنانو او نیکونو زمونږ

ستا په شریعت باندې عمل ونه کړ

هغوی غوږ ونه نیوه ستا خبرداریو او حکمونو لره

۳۵ تا لوی برکت ورکړ هغوی ته د پاچاهۍ

پرېمانه شتمنې او هم د ځمکې حاصلخېزې سره

مګر هغوی نه عبادت وکړ د ستا

او نه یې پرېښودلې خپلې بدۍ

۳۶ ګوره مونږ نن یو غلامان

زمونږ نیکونو ته ورکړې دې چې ځمکه حاصلخېزه وه

چې یې مېوې او ښه فصلونه وخوري

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وګوره نن مونږ غلامان يو په کې

٣٧ اخلي پرېمانه حاصلات د ځمکې دا پاچاهان

چې دې ټاکلي دي په مونږ باندې

ځکه چې مونږه ګناه کړې ده

څه چې يې وي خوښه

کړي يې په مونږه او په څارويو زمونږ

لوی مصيبت کې ګرفتار يو مونږ

## قوم او د ښبتن سره لوظ

٣٨ د هغو ټولو پېښنو له امله چې وشوې، مونږ د اسراييلو قوم يو
ليکل شوی ټينګ لوظ کوو او زمونږ مشران، لاويان او زمونږ کاهنان
به په هغه باندې خپل مهرونه ولګوي.

١٠ ١ لومړني کس چې مهر يې ولګاوه هغه والي يعني نحميا د
حکليا زوی ؤ او بيا صدقيا مهر ولګاوه. لاندې خلکو هم مهرونه
ولګول:

٢-٨ کاهنان: سرايا، عزريا، ارميا، فشحور،
امريا، ملکيا، حطوش، شبنيا،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ملوک، حاريم، مريموت، عوبديا،

دانيال، جنتون، باروک، مشلام،

ابيا، ميامين، معزيا، بلجای او شمعيه.

٩-١٣ لاويان: يشوع د ازنيا زوی،

بنوي د حيناداد د طايفې څخه،

قدمي ييل، شبنيا، هوديا، قليطا،

فلايا، حانان، ميکا، رحوب،

حشبيا، زکور، شربيا، شبنيا،

هوديا، باني او بنينو.

١۴-٢٧ د قوم مشران: فرعوش، فحت موآب، عيلام، زتو،

باني، بوني، عزجد، ببای، ادونيا،

بغوای، عادين، آطير، حزقيا،

عزور، هوديا، حاشوم، بيسای،

حاريف، عناتوت، نيبای، مجفيعاش،

مشلام، حيزير، مشيزبييل، صادوق،

يدوع، فلتيا، حانان، عنايا، هوشع،

حننيا، حشوب، هلوحيش، فلحا،

شوبيق، رحوم، حشبنا، معسيا،

اخيا، حانان، عانان، ملوک،

حاريم او بعنه.

## د لوظ متن

٢٨ مونږ د اسراييلو قوم، کاهنانو، لاويانو، د خدای د کور ساتونکو،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سندرغاړو، خدمتګارانو او نورو ټولو هغو خلکو چې د خدای د
شریعت څخه اطاعت کوي، خپل ځانونه د هغو پردیو قومونو څخه
چې زمونږ په خاوره کې اوسیږي، بېل کړل. مونږ د خپلو ښځو او
خپلو ټولو هغو زامنو او لورګانو سره چې په دې لوظ پوهیږي، ٢٩
د خپلو مشرانو سره په دې قسم کې یوځای کیږو چې مونږ به د
خدای د شریعت سره سم چې خدای د خپل خدمتګار موسی په
وسیله راکړی دی خپل ژوند تیروو. مونږ به د خپل څښتن په ټولو
حکمونو، قوانینو او شرطونو باندې عمل او د هغو اطاعت به کوو. که
چېرې مونږ هغه مات کړو، نو د خدای لعنت دې په مونږ باندې وي.

٣٠ مونږ دا لوظ کوو چې مونږ به خپلې لورګانې د غیریهودیانو
زامنو ته نه ورکوو او نه به پرېږدو چې زمونږ زامن د غیریهودیانو د
لورګانو سره ودونه وکړي.

٣١ که چېرې پردې خلک غلې دانې یا کوم بل شی راوړي چې په
مونږ باندې یې د سبت یا په کومه بله سپېڅلې ورځ خرڅ کړي، مونږ
به یې ورڅخه وانخلو.

په هر اووم کال به په ځمکه کې کرنه نه کوو او خپل ټول پورونه به
وبخښو.

٣٢ مونږ مسوولیت لرو چې هر کال به د مثقال دریمه برخه سپین
زر د خپل خدای د کور د لګښت دپاره ورکړو.

٣٣ مونږ به د خدای په کور کې د عبادت دپاره دا شیان تیار کړو:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سپېڅلې ډوډۍ، د غلو دانو ورځنۍ نذرانه، هغه ښاروي چې د قربانيو
په توګه هره ورځ سوځول کيږي، د سبت، د نوې مياشتې د اخترونو
او نورو اخترونو دپاره سپېڅلې نذرانې، نورې سپېڅلې نذرانې، د
اسراييلو د ګناهونو د کفارې نذرانې او نور شيان چې د خدای د کور
دپاره ورته اړتيا ده.

٣۴ مونږ يعنې کاهنان او لاويان او زمونږ خلک به هر کال پچه
اچوو چې دا څرګنده شي چې کومې طايفې به په ټاکلي وخت لرګي
زمونږ د خدای کور ته راوړي، ترڅو د شريعت د شرطونو سره سم
هغه سوځېدونکې قربانۍ ورباندې وسوځول شي چې زمونږ څښتن
خدای ته وړاندې کيږي.

٣۵ مونږ مسووليت لرو چې هر کال د څښتن کور ته د لومړنيو غلو
دانو او د هرې ونې لومړنۍ مېوې د نذرانې په توګه راوړو.

٣۶ لکه څنګه چې په شريعت کې ليکل شوي دي، مونږ به د خپلو
زامنو، غواګانو، وزو او مېږو څخه هر لومړنی زېږول شوی هغه
کاهنانو ته راولو چې د خدای په کور کې خدمت کوي او هغه به
خدای ته وقف کوو.

٣٧ مونږ به د اوړو هغه پېړه چې هر کال د لومړنيو راټولو شويو
غلو دانو حاصل څخه تياره شوې وي او د شرابو، د زيتونو د تېلو او
د هر ډول مېوو د حاصل نورې نذرانې هغو کاهنانو ته راوړو چې د
خدای په کور کې د ګودامونو مسوولان دي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مونږ به د خپلو ځمکو د حاصلاتو لسمه برخه هغو لاويانو ته، چې
زمونږ په ښارګوټو کې هغه راټولوي، ورکړو. ۳۸ د لسمې برخې د
راټولولو په وخت کې بايد هغه کاهنان چې د هارون د اولادې څخه
دي د لاويانو سره وي او لاويان دې د راټول شوي عشر، لسمه برخه
د خدای د کور ګودامونو ته يوسي. ۳۹ د اسراييلو خلک او لاويان
بايد د غلو دانو، شرابو او د زيتونو د تېلو اعانې هغو ګودامونو ته
راوړي په کومو کې چې د خدای د کور لوښي ساتل کيږي او کاهنان
چې خدمت کوي، د خدای د کور ساتونکي او سندرغاړي هلته
اوسيږي.

مونږ به د خدای د کور په اړه بې پروايي ونه کړو.

## د اورشليم اوسېدونکي

۱۱ ۱ نو د قوم مشران په اورشليم کې ځای په ځای شول او
نورو خلکو پچه واچوله چې د هرو لسو کورنيو څخه دې يوه کورنۍ
غوره شي او هغه دې د اورشليم په سپېڅلي ښار کې واوسيږي او
پاتې دې په نورو ښارګوټو کې واوسيږي. ۲ هر سړی چې په
خپله خوښه حاضرېده چې په اورشليم کې واوسيږي، خلکو د هغه
دپاره د برکت غوښتنه کوله. ۳ د اسراييلو خلک، کاهنان، لاويان،
د خدای د کور خدمتګاران او د سليمان د خدمتګارانو اولاده د يهودا
په ښارګوټو کې په خپلو ځمکو کې اوسېدل.

دا د يهودا د ولايت د مشرانو لست دی چې په اورشليم کې اوسېدل:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ په اورشليم کښې د يهودا او بنيامين د قبيلو ځينې غړي
اوسېدل چې هغه دا وو: عتايا چې د عزيا زوی ؤ او د زکريا
لمسی ؤ. د هغه په نورو نيکونو کښې امريا، شفطيا او مهلليل
چې د يهودا د زوی فارص اولاده ده، شامل وو.
۵ معسيا چې د باروک زوی او د کلحوزه لمسی ؤ. د هغه
په نورو نيکونو کښې حزايا، عدايا، يوياريب او زکريا چې د
يهودا د زوی شيله اولاده ده، شامل وو.

۶ د فارص له اولادې څخه څلورسوه اته شپېته تکړه سړي چې
په اورشليم کښې اوسېدل.

۷ د بنيامين له قبيلې غړي: سلو چې د مشلام زوی او د
يوعيد لمسی ؤ. د هغه په نورو نيکونو کښې فدايا، قولايا،
معسيا، ايتييل او اشعيا شامل وو.
۸ د سلو نه وروسته جبای او سلای.

ټول نهه سوه اته ويشت تنه بنيامينيان په اورشليم کښې اوسېدل. ۹
د زکري زوی يوييل د هغوی مشر ؤ او يهودا د هسنواه زوی په ښار
کښې د هغه مرستيال ؤ.

۱۰ کاهنان: يدعيا د يوياريب زوی او ياکين.
۱۱ سرايا چې مشر کاهن ؤ، د حلقيا زوی او د مشلام
لمسی. د هغه په نيکونو کښې صادوق، مرايوت او اخيطوب
شامل وو.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ له دې طايفې څخه اته سوه دوه ويشت تنو د خدای په کور کې
خدمت کاوه.

عدايا چې د يروحام زوی او د فلليا لمسی ؤ. د هغه په
نيکونو کې امصي، زکريا، فشحور او ملکيا شامل وو.

۱۳ د دې طايفې څخه دوه سوه دوه څلوېښت تنه د کورنيو مشران
وو.

عمشيسای د عزرييل زوی او د اخزای لمسی ؤ. د هغه په
نيکونو کې مشليموت او يمير شامل وو.

۱۴ د دې طايفې څخه يو سلو اته ويشت زړور جنګيالي وو. د
هغوی مشر زبدي ييل د هجدوليم زوی ؤ.

۱۵ لاويان: شمعيه د حشوب زوی او د عزريقام لمسی ؤ.
حشبيا او بوني د هغه نيکونه وو.
۱۶ شبتای او يوزاباد مشر لاويان وو او دوی د هغو
کارونو مسوولان وو چې د خدای له کور څخه دباندې به
تر سره کېدل.
۱۷ متنيا د ميکا زوی او د زبدي لمسی ؤ چې د اساف
اولاده وه. هغه د شکرګزارۍ د دعا د سندرې په ويلو سره، د
خدای د کور د سندرغاړو د ډلې مشري کوله.
بقبقيا د متنيا مرستيال ؤ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عبدا د شموع زوی او د جلال لمسی ؤ چې د یدوتون له
اولادې څخه ؤ.

۱۸ د اورشلیم په سپېڅلي ښار کې ټول دوه سوه او څلور اتیا تنه
لاویان اوسېدل.

۱۹ د خدای د کور ساتونکي: عقوب، طلمون او د هغوی
خپلوان چې ټول یو سلو دوه اویا تنه وو.

۲۰ د اسراییلو نور خلک او پاتې کاهنان او لاویان د خپلو نیکونو
په جایدادونو کې د یهودا په نورو ښارګوټو کې اوسېدل. ۲۱ د
خدای د کور خدمتګاران د اورشلیم په هغې برخې کې اوسېدل چې د
عوفل په نوم یادېده او هغوی د صیحا او جشفا تر نظر لاندې کار
کاوه.

۲۲ عزي د باني زوی او د حشبیا لمسی ؤ، هغه د هغو لاویانو مشر
ؤ چې په اورشلیم کې اوسېدل. د هغه په نیکونو کې متنیا او میکا
شامل وو او میکا د اساف د طایفې څخه ؤ چې نوموړې طایفې د
خدای په کور کې د موسیقۍ مسوولیت په غاړه درلود. ۲۳ د
سندرغاړو ورځنی فعالیت د فارس پاچا د حکم او اصولو سره سم
تر سره کېده.

۲۴ فتحیا د مشیزبییل زوی چې د زرح د طایفې او د یهودا د قبیلې
څخه ؤ، د فارس په دربار کې د اسراییلو د خلکو استازی ؤ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د نورو ښارونو او ښارګوټو اوسېدونکي

۲۵ ډېر خلک په هغو ښارګوټو کې اوسېدل چې د هغوی کروندو
ته نژدې وو. د یهودا د قبیلې خلک په قریت اربع، دیبون او
یقبصي ییل او د دغو ښارونو په نژدې کلیو کې اوسېدل. ۲۶
همدارنګه هغوی د یشوع، مولاده، بیت فالط ۲۷ او د حزر شوعال
په ښارونو او د بیرشبع په ښار او د هغه په شاوخوا کلیو کې هم
اوسېدل. ۲۸ هغوی د صقلغ په ښار او د مکونه په ښار او د هغه په
شاوخوا کلیو کې، ۲۹ په عین رمون، زرعه، یرموت، ۳۰ زانوح،
عدولام او د دغو ښارګوټو په نژدې کلیو کې اوسېدل. هغوی په
لاکیش او نژدې کروندو او په عزیقه او د هغې په شاوخوا کلیو کې
اوسېدل. په دې توګه د یهودا خلک په هغې سیمې کې اوسېدل چې د
بیرشبع او د هنوم د درې ترمنځ پرته وه.

۳۱ د بنیامین د قبیلې خلک په جبع، مخماس، عیا او په بیت ییل او
د هغه په شاوخوا او نژدې کلیو، ۳۲ عناتوت، نوب، عننیا، ۳۳
حاصور، رامه، جتایم، ۳۴ حادید، صبوییم، نبلاط، ۳۵ لود او اونو
او د کسبګرو په دره کې اوسېدل. ۳۶ د لاویانو ځینې ډلې چې د
یهودا په سیمه کې اوسېدلې هغوی ولېږل شوې چې د بنیامین د خلکو
سره واوسېږي.

## د کاهنانو او لاویانو لست

۱-۷ دا د هغو کاهنانو او لاویانو لست دی چې د شالتي ییل د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زوی زروبابل او مشر کاهن یشوع سره د جلاوطنۍ څخه راستانه شول:

کاهنان: سرایا، ارمیا، عزرا،
امریا، ملوک، حطوش،
شکنیا، رحوم، مریموت،
عیدو، جنتون، ابیا،
میامین، معدیا، بلجه،
شمعیه، یویاریب، یدعیا،
سلو، عاموق، حلقیا او یدعیا.

دا خلک د یشوع په زمانه کې د کاهنانو مشران وو.

۸ لاویان: دې لاویانو د شکرګزارۍ د سندرو د ویلو
مشري کوله: یشوع، بنوي، قدمي ییل، شربیا، یهودا او متنیا.
۹ بقبقیا او عني د خپلو ملګرو لاویانو سره هغې پورته
یادې شوې ډلې ته مخامخ ودرېدل او د هغوی په ځواب کې
یې سندرې ویلې.

## د لوی کاهن یشوع اولاده

۱۰ یشوع د یویاقیم پلار، د الیاشیب نیکه او د یویاداع غور نیکه ؤ،
۱۱ یویاداع د یوناتان پلار او د یدوع نیکه ؤ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د کاهنانو د طايفو مشران

۱۲-۲۱ کله چې يوياقيم مشر کاهن ؤ، دا کاهنان د کاهنانو د
طايفو مشران وو:

د سرايا له طايفې څخه، مرايا
د ارميا له طايفې څخه، حننيا
د عزرا له طايفې څخه، مشلام
د امريا له طايفې څخه، يهوحانان
د ملوک له طايفې څخه، يوناتان
د شبنيا له طايفې څخه، يوسف
د حاريم له طايفې څخه، عدنا
د مرايوت له طايفې څخه، حلقای
د عيدو له طايفې څخه، زکريا
د جنتون له طايفې څخه، مشلام
د ابيا له طايفې څخه، زکري
د منيامين او موعديا له طايفو څخه، فلطای
د بلجه له طايفې څخه، شموع
د شمعيه له طايفې څخه، يهوناتان
د يوياريب له طايفې څخه، متنای
د يدعيا له طايفې څخه، عزي
د سلای له طايفې څخه، قلای
د عاموق له طايفې څخه، عيبر
د حلقيا له طايفې څخه، حشبيا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د لاویانو او کاهنانو د کورنیو سوانح

۲۲ د لاویانو او کاهنانو د کورنیو نومونه د دغو مشرانو کاهنانو یعنې الیاشیب، یویاداع، یوحانان او یدوع په زمانه کې ثبت شوي وو. د دې نومونو ثبتول د فارس د پاچا داریوش په دوران کې پای ته ورسېدل.

۲۳ د لاویانو د مشرانو د کورنیو نومونه یوازې د الیاشیب د لمسي یوحانان تر زمانې پورې په رسمي توګه د تاریخ په کتاب کې ولیکل شول.

## د خدای په کور کې د لاویانو د وظیفو سپارښتنه

۲۴ د حشبیا، شربیا او د قدمي ییل زوی یشوع د لاویانو مشران وو. د هغوی تر لارښوونو لاندې، لاویان په څو ډلو کې تنظیم شوي وو. د خدای د خدمتګار داود پاچا د لارښوونو سره سم دوه، دوه ډلې یو بل ته مخامخ ودرېدلې چې د خدای ثنا ووایي او شکرګزاري وکړي. د سندرو په ویلو سره یوې ډلې بلې ډلې ته ځواب ورکاوه.

۲۵ د خدای د کور هغه ساتونکي چې د دروازو تر څنګه د ګودامونو د ساتلو مسوولیت یې په غاړه ؤ، دا دي: متنیا، بقبقیا، عوبدیا، مشلام، طلمون او عقوب.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۶ دا هغه خلک وو چې د يشوع د زوی او د يهوصادق د لمسي
يوياقيم او د نحميا والي او د شريعت د عالم او کاهن عزرا په زمانه
کې يې ژوند کاوه.

## نحميا او د ښار دېوال وقف کول

۲۷ کله چې د اورشليم د ښار دېوال وقف کېده، لاويان د خپلو
ټولو ځايونو څخه اورشليم ته راوستل شول، ترڅو هغوی د
شکرګزارۍ په سندرو او د تالونو، چنګونو او ربابونو په موسيقۍ سره
د وقف کېدو په جشن کې ګډون وکړي. ۲۸-۲۹ د لاويانو
سندرغاړي د اورشليم د شاوخوا سيمو څخه چې هغوی په کې د
ځانونو دپاره کلي ودان کړي وو، د نطوفې د شاوخوا کليو، د
بيت جلجال، جبع او عزموت څخه راغلل او په اورشليم کې سره
راټول شول. ۳۰ کاهنانو او لاويانو لومړی د خپلو ځانونو دپاره او
بيا د قوم، دروازو او د ښار د دېوال د پاکولو ديني مراسم تر سره
کړل.

۳۱ ما د يهودا مشران د دېوال په سر باندې سره راټول کړل او د
سندرغاړو دوه لويې ډلې مې وټاکلې چې د ښار شاوخوا وګرځي او د
خدای د شکرګزارۍ سندرې ووايي.

لومړنۍ ډله د دېوال په سر باندې جنوب خواته د خزلو د دروازې په
لور لاړه. ۳۲ هوشعيا د سندرغاړو شاته روان ؤ او د يهودا د
مشرانو څخه نيمايي يې د هغه پسې روان وو. ۳۳-۳۵ وروسته
دغو کاهنانو د ټګ په وخت کې سرني غږول: عزريا، عزرا، مشلام،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يهودا، بنيامين، شمعيه او ارميا. د هغو پسې زکريا د يوناتان زوی او د
شمعيه لمسی ؤ. (د هغه په نيکونو کې متنيا، ميکايا او زکور چې د
اساف له طايفې څخه ؤ، شامل وو.) ٣٦ ورپسې د زکريا خپلوان
يعنې شمعيه، عزرييل، مللای، جللای، ماعای، نتنييل، يهودا او حناني
وو. دوی د موسيقۍ هغه الې غږولې چې د خدای خدمتګار داود
پورې يې اړه لرله. د شريعت عالم عزرا د دې ډلې لارښوونه کوله.
٣٧ کله چې هغوی د چينې دروازې ته ورسېدل، په هغو زينو
باندې چې د داود تر ښاره پورې رسېدلې وې، وختل او د داود له
ماڼۍ څخه تېر شول او بېرته د اوبو د دروازې دېوال ته چې د ښار په
ختيځه خوا کې ؤ، وروګرځېدل.

٣٨ د شکرګزارۍ کولو بله ډله د دېوال په سر باندې شمال خواته
لاړه او زه د نيمايي خلکو سره هغوی پسې روان وم. مونږ د تنورونو
د برج څخه تېر شولو او پلن دېوال ته ورسېدلو ٣٩ او له هغه ځای
څخه روان شولو او د افرايم له دروازې، يشانه دروازې، د ماهي
دروازې، د حنن ييل له برج او د سلو له برجه تېر شولو او د پسه
دروازې ته ورسېدلو. په پای کې مونږ د خدای د کور دروازې ته
نژدې ودرېدو.

٤٠ نو دواړه ډلې چې د خدای شکرګزاري يې کوله د خدای په
کور کې په خپلو ټاکلو ځايونو کې ودرېدلې. برسېره پر هغو نيمو
مشرانو چې زما سره وو، ٤١ زما په ډله کې دا لاندې کاهنان چې
سرنې ورسره وو، هم شريک وو: الياقيم، معسيا، منيامين، ميکايا،
اليوعينای، زکريا او حننيا. ٤٢ معسيا، شمعيه، العازار، عزي،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یوحانان، ملکیا، عیلام او ایصر د هغوی پسې روان وو. هغو
سندرغاړو چې د یزرحیا له خوا يې لارښودنه کېدله، په لوړ اواز سره
سندرې ويلې.

۴۳ په هغه ورځ ډېرې قربانۍ وړاندې شوې او خلک د خپلو ښځو
او ماشومانو سره خوشحاله وو، ځکه چې خدای د هغوی زړونه د
خوشحالۍ څخه ډک کړي وو. د اورشلیم د خلکو د خوشحالۍ اواز
له ډېر لېرې ځای څخه اورېدل کېده.

## د خدای د کور د عبادت تیاری

۴۴ په هغه ورځ ځینې خلک د ګودامونو د مسوولانو په توګه
وټاکل شول چې په هغو کې به د خدای د کور دپاره بسپنې، د
حاصلاتو لسمه برخه او لومړنۍ غلې دانې او مېوې چې هر کال به
پخېدلې، ساتل کېدلې. دې مسوولانو دا وظیفه درلوده چې د هغو
کروندو څخه چې ښارونو ته نژدې وې، د کاهنانو او لاویانو برخه د
شریعت د اصولو سره سم راټوله کړي. د یهودا ټول خلک د کاهنانو
او لاویانو د خدمت څخه خوشحاله وو، ۴۵ ځکه چې هغوی د
پاکوالي مراسم او هغه نورې دندې سرته رسولې چې خدای د هغو
حکم کړی ؤ. د خدای د کور سندرغاړو او ساتونکو هم خپلې دندې
د داود پاچا او د هغه د زوی سلیمان د حکم سره سم تر سره کولې.
۴۶ په پخوا زمانه کې، یعنې د داود او اساف په زمانه کې د
سندرغاړو او خدای ته د شکرګزارۍ او ثنا ویلو د سندرو دپاره
لارښوونکی موجود ؤ. ۴۷ د زروبابل او نحمیا په زمانه کې به د
اسراییلو ټولو خلکو هره ورځ د خدای د کور سندرغاړو او ساتونکو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته خواږه او نور د اړتیا شیان ورکول. خلکو به لاویانو ته سپېڅلي
نذراني ورکولي او لاویانو به کاهنانو ته د اړتیا وړ برخه ورکوله.

## د پردیو قومونو څخه د اسراییلو بېلتون

١٣ ١ په هغه ورځ چې کله د موسی تورات په لوړ اواز سره
خلکو ته لوستل کېده، هغوی داسې لیکنه راپیدا کړه چې په هغې کې
ویل شوي وو چې عمونیانو او موآبیانو ته اجازه نشته چې د خدای د
قوم د غونډې سره یوځای شي. ٢ دا په دې خاطر چې د عمون
او موآب خلکو اسراییلیانو ته د مصر څخه د راوتلو په وخت کې په
لاره کې د خوړو او اوبو په ورکولو سره هرکلی ونه کړ، بلکې د دې
په ځای هغوی بلعام ته پیسې ورکړې چې په اسراییلو باندې لعنت
ووایي، خو زمونږ خدای هغه لعنت په برکت باندې بدل کړ. ٣ کله
چې د اسراییلو قوم د تورات دا وینا واورېدله، هغوی ټول دورګه
خلک د اسراییلو د ټولنې نه وشړل.

## د نحمیا اصلاحات

٤ الیاشیب کاهن چې زمونږ د خدای د کور د ګودامونو مسوول ؤ،
هغه د طوبیا خپلوان ؤ. ٥ د ګودامونو د کوټو څخه یې یوه لویه
کوټه طوبیا ته ورکړې وه. دا کوټه مخکې د غلو دانو او خوشبویۍ د
نذرانو او د خدای د کور د لوښو او هم د غلو دانو، شرابو او د زیتونو
د تېلو د لسمې برخې دپاره وه، چې لاویانو، د خدای د کور
سندرغاړو او د خدای د کور ساتونکو ته به د حکم سره سم ورکول

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کېدل. د کاهنانو دپاره نذرانې هم په دې کوټه کې ساتل کېدلې. ٦
خو کله چې دا کار کېده زه په اورشليم کې نه وم، ځکه چې د
ارتخششتا د پاچاهۍ په دوه دېرشم کال چې هغه د بابل پاچا ؤ، زه
بېرته هغه ته ورغلی وم. څه موده وروسته مې د هغه څخه اجازه
تر لاسه کړه ٧ او اورشليم ته راستون شوم. هلته د الياشيب د هغه
بد کار څخه خبر شوم چې طوبيا ته يې د خدای په کور کې يوه کوټه
ورکړې وه. ٨ زه ډېر په قهر شوم او د طوبيا ټول شيان مې
دباندې وغورځول. ٩ ما حکم وکړ چې کوټې دې د مذهبي دود
له مخې پاکې شي او د خدای د کور سامان، د غلې دانې نذرانې او
خوشبويي دې بېرته کېښودل شي.

١٠ همدارنګه زه خبر شوم چې د خدای د کور سندرغاړي او نور
لاويان د اورشليم څخه تللي او بېرته خپلو کروندو ته ستانه شوي
دي، ځکه چې خلکو هغوی ته خپله برخه نه وه ورکړې. ١١ نو ما
مامورين ورټل او د هغوی څخه مې پوښتنه وکړه: «د خدای د کور په
هکله ولې بې پروايي شوې ده؟» بيا مې لاويان او سندرغاړي بېرته د
خدای کور ته راوستل او هغوی ته مې بېرته خپلې وظيفې وسپارلې.
١٢ نو د يهودا ټولو خلکو يوځل بيا د خدای د کور ګودامونو ته د
خپلو غلو دانو، شرابو او د زيتونو د تېلو د لسمې برخې په راوړلو
باندې پيل وکړ. ١٣ دا لاندې کسان مې د ګودامونو د مسوولانو په
توګه وټاکل: شلميا کاهن، صادوق چې د شريعت عالم ؤ، فدايا لاوي
او حانان چې د زکور زوی او د متنيا لمسی ؤ، د هغوی مرستيال. دا
سړي خلکو ته د اعتبار وړ وو، د دوی کار نورو خدمتګارانو ته د
سامانونو وېشل ؤ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ ای زما خدایه، زما هغه ښه کارونه په یاد وساته چې ستا د کور
دپاره مې کړي دي او هغه مه هېروه.

۱۵ په هغه وخت کې مې ولیدل چې په یهودا کې خلک د سبت په
ورځ د انګورو څخه شربت وباسي. نورو غلې دانې، شراب، انګور،
انځر او نور شیان په خپلو خرو باندې بارول او هغه یې اورشلیم ته
وړل. هغوی غوښتل چې د سبت په ورځ دا شیان خرڅ کړي، خو ما
خبرداری ورکړ چې دا کارونه ونه کړي. ۱۶ ځینې خلک چې د
صور د ښار څخه وو او په اورشلیم کې اوسېدل، هغوی به هم د سبت
په ورځ ماهیان او هر ډول شیان راوړل چې په هغو یهودیانو یې
خرڅ کړي چې په اورشلیم کې اوسېدل. ۱۷ ما د یهودیانو مشران
ورټل او هغوی ته مې وویل: «دا څه بد کار دی چې تاسې یې کوئ؟
تاسې ولې د سبت د ورځې سپکاوی کوئ؟ ۱۸ ایا ستاسو نیکونو
همداسې کارونه ونه کړل، ترڅو زمونږ خدای په مونږ او په دې ښار
باندې دا ټول مصیبتونه راوستل؟ اوس تاسو د سبت ورځې ته په
سپکاوي سره په اسراییلو باندې د هغه نور غضب هم راپاروئ.»

۱۹ نو ما حکم ورکړ چې د ښار دروازې دې د سبت د پیل کېدلو،
یعنې د لمر د پرېوتلو د وخت نه بندې کړای شي او د سبت د پای ته
رسېدلو پورې دې خلاصې نه شي. ما د خپلو کسانو څخه څو تنه په
دروازو کې ودرول چې د سبت په ورځ د خرڅولو شیان ښار ته رانه
وړل شي. ۲۰ هغو سوداګرو او خرڅوونکو چې هر ډول شیان به
یې خرڅول یو یا دوه ځلې یې د شنبې شپه د اورشلیم څخه دباندې
تېره کړه. ۲۱ خو ما هغوی ته خبرداری ورکړ او ومې ویل: «تاسو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ولې د دېوال په خوا کې شپه تېروئ؟ که تاسو بیا دا کار وکړ، نو زه به ستاسو په وړاندې د زور څخه کار واخلم.» له هماغه وخت راهیسې
هغوی نور د سبت په ورځ رانغلل. ۲۲ ما لاویانو ته حکم وکړ چې
خپل ځانونه د مذهبي دود له مخې پاک کړي او په دروازو کې پهره وکړي، ترڅو د سبت د ورځې پاکوالی وساتل شي.

ای زما خدایه، ما د دې کار په خاطر هم در په یاد کړه او د خپلې لویې او تلپاتې مینې په خاطر په ما باندې رحم وکړه.

۲۳ په هغه وخت کې مې دا هم ولیدل چې د یهودا ځینو خلکو د
اشدود، عمون او موآب د ښځو سره ودونه کړي وو. ۲۴ د هغوی د
ماشومانو څخه نیمایي یې په اشدودي یا ځینو نورو ژبو باندې خبرې
کولې او هغوی د یهودا په ژبه باندې خبرې نه شوې کولای. ۲۵ نو
ما هغه خلک ورټل، په هغوی باندې مې لعنت ووایه، ځینې مې ووهل او د هغوی د سرونو وېښتان مې وویستل. بیا مې هغوی ته د خدای په نوم باندې قسم ورکړ چې هغوی او د هغوی اولادونه به د پردیو
قومونو سره ودونه نه کوي. ۲۶ ما هغوی ته وویل: «همدا د پردیو
قومونو ښځې وې چې سلیمان پاچا یې ګناهکار کړ. هغه د نورو قومونو د پاچاهانو په منځ کې ساری نه درلود. خدای د هغه سره مینه درلودله او هغه یې په ټولو اسراییلو باندې پاچا کړی ؤ، خو هغه هم
پردیو ښځو د ګناه خواته یووړ. ۲۷ ایا مونږ هم ستاسو په لاره
روان شو او د پردیو قومونو د ښځو سره په ودونو کولو لویه ګناه وکړو او په دې توګه د خپل خدای په وړاندې خیانت وکړو؟»

۲۸ یهویاداع د مشر کاهن الیاشیب زوی ؤ، خو د هغه د زامنو څخه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یو تن د سنبلط حوروني د لور سره واده کړی ؤ، نو هغه مې د
اورشلیم څخه وشړلو.

۲۹ ای زما خدایه، دا در په یاد کړه چې هغوی څنګه د کاهن د
مقام او د هغه لوظ سپکاوی وکړ چې تا د کاهنانو او لاویانو سره
کړی ؤ.

۳۰ ما قوم د ټولو پردیو شیانو څخه پاک کړ او د کاهنانو او لاویانو
دپاره مې وظیفه وټاکله، ترڅو هغوی ټول خپل مسوولیت وپېژني.
۳۱ داسې ترتیبات مې ونیول چې خلک به په ټاکلي وخت د نذرانو
د سوځولو دپاره لرګي راوړي او د خپلو لومړنیو حاصلاتو نذرانې به
راوړي.

ای زما خدایه، ما در په یاد کړه او ماته برکت راکړه.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
afghanbibles.org © د ختیځ افغانستان ۲۰۲۳
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.